**ایا د (G20) سر مشریزې پر وړاندې لاریونونه به رښتیا هر څه بدل کړي؟**




**خبر:**

له ټولې نړۍ څخه په لس ګونو زره د پانګوالۍ-ضد لاریون کوونکي د المان د هامبورګ په ښار کې راټول شوی وو، ترڅو د جولای د ۷ او ۸ مې نیټې د جي ۲۰ هیوادونو د سرمشریزې پر وړاندې لاریون وکړي، چې د ۲۰ شتمنو اولسونو مشران پکې ګډون کوي.

لاریون کوونکو د یو لړ بېلابېلو لاملونو څرګندونه کوله چې له هغې جملې یې د بېوزلۍ د پای ته رسېدو، په شتمنۍ کې د نا انډولۍ او په ټوله نړۍ کې د ښکېلاکګرو جګړو پای ته رسېدو غوښتنه کوله. دغه راز د چاپېریال ساتنې پلوي یې هم کوله. د راز راز پیغامونو سره سره، د لاریون کونکو غوسه د پانګوال نظام او نړیوالو پالیسیو پر وړاندې یوه وه او دوی یې په رښتینې توګه د بشپړې ګډوډۍ، بې انصافۍ، نا انډولۍ، په اولسونو او ټوله نړۍ کې د بدمرغیو او کړکېچونو په رامنځته کولو تورن کړ.

**تبصره:**

د ناستو او غونډو پر وړاندې داسې ستر لاریونونه، لکه د شلو شتمنو هیوادونو (G20) سرمشریزه یا د ستر اقتصادي کړکېچ او د پانګوالۍ-ضد لاریونونه د نړۍ په زیاتو هیوادونو کې کیږي، لکه په بریتانیه کې چې د جولای پر لومړۍ نېټه لاریون وشو، چې زرګونو ګډونوالو برخه پکې اخیستې وه او په ښکاره ډول یې له نړیوال پانګوال نظم سره د دوی ناخوښي څرګندوله. دا ډېر د حیرانتیا ځای دی چې د دغه بې عدالته نظام قوانینو او پالیسیو شتمني د مخورو، څو شتمنو بانکونو او شرکتونو په واک کې ورکړې چې د ډېرو وګړو په زیان یې د نړۍ سرچینې انحصار کړي، په میلیونو خلک یې له بېوزلۍ سره مخ کړي او د ورانوونکو جګړو د مالي ملاتړ په موخه یې د بهرنیو خاورو شتمنۍ چور او لوټ کړې.

په رښتیا دغه زهرجن نظام نن فرصت پیدا کړی!

له بده مرغه، دغه ډول ډله ییز لاریونونه کول د نړۍ د پاګوال نظم په له منخه وړلو او د یو مهم سیاسي بدلون په منځته راتګ کې پاتې راغلي. د بېلګې په توګه، موږ ولیدل چې په څومره جوش سره د والسټریټ (Wall Street) ښکېلاکګر خوځښتونه راپورته شول، چې دوی به د نړیوالې اقتصادي ناانډولۍ او پر حکومتونو باندې د لویو شرکتونو ناروا نفوذ پر وړاندې لاریونونه تر سره کوي او بیا به په نړۍ کې ښارونو ته خپریږي، خو دا ډول خوځښتونو د شته حالت په بدلون کې هیڅ کوم ډول اغېز نه درلود.

له دې امله، نوموړي خوځښتونه او لاریونونه د غوښتنو او ارمانونو داسې یوه ټولګه ورانده کوي چې غواړي له دې لارې د خلکو ژوند ته وده ورکړي او بې عدالتي له منځه یوسي، خو د یو روښانه لیدلوري او تګلارې نشتوالی او دغه راز د سالم اقتصادي او ټولنیزو حل لارو ترڅنګ د واقعي بدیلي سیاسي تګلارې نشت هغه څه دي چې د نوموړو موخو حقیقت روښانه کوي. د بېلګې په ډول، د اتلانټیک اژانس مرستیال مدیر، مایسیس نیم لیکي: "د ډېرو ښارونو په واټونو کې یو پیاوړی سیاسي انجن چلېږي. نوموړی انجن په ډېره چټکتیا سره څرخي او زښته زیاته انرژي تولیدوي. خو دغه انجن پایې (ټیرونه) نه لري، نو ځکه دغه غورځنګونه حرکت نه کوي."
فعالان تر ډېره بریده د نوو پالیسیو غوښتونکي دي چې نوموړي پالیسۍ یوازې د دوی په ایالتونو کې د نیمګړې اصلاح استازیتوب کوي. دا په داسې حال کې ده چې نوموړي د پانګوال نظام د عمومي طرحې ساتنه کوي او دې حقیقت ته په کتو سره ټول نظام دې موخې ته چمتو نه دی. یا دوی د دیموکراتیک نظام په چوکاټ کې د بدلون غوښتنه کوي، په دې موخه چې د دولت په دیموکراټیکو بنسټونو کې باید پرمختګ رامنځته شي ، ترڅو له لویو شرکتونو سره یا د بې عدالته پانګوالو پالیسیو سره مبارزه وشي.
په هر حال ، دوی دا ټکی هیر کړی چې دا یو دیموکراټیک نظام دی، انسانان په کې قوانین جوړوي، د واکمنو مخورو پر مخ یې دروازه پرانیستې چې د خپل ځان د ساتنې او ځانې ګټو په موخه قوانین جوړ کړي، ترڅو د عامو خلکو په پرتله شتمن او پیاوړي خلک ترې ګټه پورته کړي.
د دې تر څنګ، هغه کسان چې د سوسیالیسټ نظام ملاتړي دي، دوی غواړي د پانګوال نظام بنسټ په خپلو دولتونو کې کیږدي. داسې ښکاري چې دوی د سوسیالیسټ نظام بشپړې ناکامې تجربې په خپلو هیوادونو کې له پامه غورځوي، لکه په کیوبا او وینزویلا کې چې اوس یکې ډېر کسان په ستره بېوزلۍ کې ژوند کوي یا په فرانسه، یونان، ارجنټاین او نورو ځایونو کې ناکام سوسیالیسټ ګوندونه، غواړي چې په خپلو هیوادونو کې اقتصادي کړکېچ له منځه یوسي. په برتانیه کې هغه څوک چې سوسیالیسټ کارګر رهبر، جرمي کوربان (Jeremy Corbyn ) ته د مسیح په سترګه ګوري چې دی به و کولای شي د اقتصادي بې عدالتیو او د هیواد د ستونزو علاج وکړي. داسې ښکاري چې دوی د ۱۹۷۰م کال هغه ناخوالې له یاده ایستلي چې په برتانیه کې سوسیالیسټ واکمنۍ" ژمنۍ ناخوښۍ " رامنځته کړې او پراخ بریدونه په خصوصي سیکټور (عامه برخو) کې هیواد پر ګونډو او له اقتصادي زوال سره یې مخ کړ. نوموړي بریدونه د پیاوړو سوداګریزو اتحادیو له لوري د معاشونو د زیاتوالي په موخه د هغه سوسیالیسټ کارګر حکومت پر وړاندې په لاره اچول شوي وو، چې پر معاشونو یې محدودیت لګولی و، ترڅو په هیواد کې د ګرانۍ او د بیعو د جګوالي مخه ونیسي. همدا ده چې سوسیالیزم خلکو ته هیڅ نه ورکوي بلکې د خوشحالۍ یو سیاسي ناوړه انځور ورکوي، ترڅو د هغو ناخوالو سره مخالف وښیي چې پانګوال نظام یې لامل شوی.
واقعیت دا دی چې پانګوال او سوسیالیسټ دواړه نظامونه د اقتصادي عدالت د ډاډمنتیا او سوکالۍ په موخه د خپلو اقتصادي چارو په تنظیم کې له ماتې سره مخ شوي، داسې اقتصادي عدالت او سوکالي چې دوامداره او پرته له لږکیو څخه ټولو خلکو ته د خوښۍ وړ وي. د اسلام اقتصادي نظام د خلافت له لارې پلی کیږي، یوازېنی هغه نظام دی چې د بېوزلۍ په حل کې او دغه راز په یو دولت کې د اقتصادي هوساینې په راوستو کې بریالی تجربه شوی ریکارډ لري.
په دې نظام کې لومړی، د بنسټیزو قواعدو له مخې د تولیداتو په پرتله د پانګې پر اغېزمن وېش باندې غور کیږي لکه په پانګوال نظام کې او دوهم، یو لړ سالم اقتصادي اصول او قوانین دي چې په متن یې د شتمنیو عادلانه وېش او اقتصادي پرمختګ، دواړه په لاس راځي. نوموړی نظام د سود او شتمنۍ ټولولو مخه نیسي چې له همدې امله د څو کسانو په لاسونو کې د شتمنیو له لوېدلو څخه مخنیوی کیږي. همدا راز نوموړی نظام د عامه سرچینو له خصوصي کولو څخه ډډه کوي او د ټولو عامه ګټو تضمین کوي.
بله دا چې، په دې کې د سرو زرو معیاري مالي نظام پلي کول شامل دي چې د انفلاسیون مخه نیسي او د ټیټ مالیاتي نظام پلي کېدو ته پراختیا ورکوي، ترڅو خلک پانګونې، سوداګریزې پراختیا، او کارموندنې

ته وهڅوي. له همدې امله، خلافت د نبوت پر طريقه ولاړ، يوازې د باور وړ بديل سياسي نظام دی چې کولی شي د پانګوال نظام نړيوالو ناخوالو ته د پای ټکی کيږدي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**ډاکټر نسرين نواز**

**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګې رييسه**

**۱۴۳۸، د شوال ۲۰ مه**

**۲۰۱۷، د جولای ۱۴ مه**